مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۴/۰۴/۲۱

# زړه مې بل رقم ته وران دی او باران دی

د یارانـو تـش مـیدان دی او بـاران دی
زړه مې بل رقم ته وران دی او باران دی

پر ښیینه د موټر تک تک ځاځکي اوري
خم په لاس کې د جانان دی او باران دی

موسیقي د اروا تل ته ور کېوتي
تازه شوی پرې ایمان دی او باران دی

که ظالم د مظلوم چتر ترې وانخلي
نو رحمت دی د رحمان دی او باران دی

دا بشر نه دی چې و اوروي کاڼـي
مهربانه دی اسمان دی او باران دی

بـاور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ